د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د پکتیکا پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نظم، دسپلین اوسپورت عمومي کمېټه

# د انصاف او عدالت پالیسي

کال: ........................................................................................................ ۱۴۰۴ هـ.ش

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نظم، دیسپلین او سپورت کمېټه

# د انصاف او عدالت پالیسي

په ټولو امورو کې د لوړو زده کړو محترم وزارت په چوکاټ کې د انصاف او عدالت اصل پلي کول، پرته له تبعیض څخه د پوهنتون د لومړیتوبونو په سر کې قرار لري، چې مونږ به په دې پالیسی کې د استادانو په ګمارلو، اداري او خدماتي کارمندانو او د محصلینو جذب، د استادانو هڅونه، د بورسونو ویشنه، ترفیعات، مجازات او مکافات، محصلانو ته د نمرو په ورکړه کې، د استادانو په ارزونه او نورو مواردو کې د بحث لاندې ونیول شي.

**موخې**

د انصاف او عدالت پالیسي د لاندینیو موخو لپاره وضع شوي ده.

۱- د انصاف او عدالت اصل په نظر کې نیولو سره د استادانو ګمارنه او ورځني فعالیتونه لکه د مضامینو عادلانه ویشنه ، د کنفرانسونو ارزیابي، مقالې، تالیفي او تحقیقي اثار، ترفیعات، بورسونه، د کمیټیو او شوراوو تنظیم، په سیمینارونو او ورکشاپونوکي معرفي کول

۲-د اداري او خدماتي کارمندانو جذب، تقرر ، لوړتیا، او امتیاز اتو کې د انصاف او عدالت اصل په نظر کې نیول

۳-د محصلینو په ارزیابي او نمرو ورکولو کې د عدالت او انصاف اصل په نظر کې نیول.

۴-په استادانو، محصلینو، اداري او خدماتي کارمندانو باندې د لوړو زده کړو وزارت قوانین، مقررات لوایح او پالیسي د یو شان پلي کول

۵-د بېنرونو، بروشرونو او کنفرانسونو له لارې د قوانینو، مقررو، لوایحو، او پالیسیو ترتیبول

**د انصاف او عدالت د تامین په برخه کې د پوهنتون برنامې**

**الف) د استادانو، اداري او خدماتي کارمندانو په ګمارنه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

۱- کادري بستونه د پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت په سایټ کې اعلانیږي او د استادانو جذب د ازاد رقابت له لارې انتخابیږي.

۲-د اداري کارمندانو تر څلورم بست پورې د ازاد رقابت له لارې د پوهنتون او د لوړو زدکړو محترم وزارت په سایت کې اعلان او د ملکي خدمتونو د ازموینې په اساس صورت نیسي.

۳-د پوهنتون د اړتیا وړ خدماتي کارمندان د ازاد رقابت له لارې او د فزیکي وړتیا په نظر کې نیولو سره او د ملکي خداماتو د هیئت په وړاندې ټاکل کیږي.

۴-په دیپارټمنټونو کې د علمي بستونو ویش د دیپارټمنټونو د اړتیا په اساس، د محصلینو (۳۰/۱) په تناسب سره ، د مضامینو تعداد او د درسي ساعتونو په مطابق او د استاد د مکلفیتونو سره د پوهنتون عملیاتي پلان کې پرځای کیږي او داړوند کال په تشکیلاتي طرحه کې ځای پرځای کیږي او دلوړو زده کړو محترم وزارت ته وړاندیز کیږي .

۵- د اداري بستونو او نورو اداري بخشونو وېش په پوهنځی کې د اداري اړتیا او د کار حجم ته په کتلودپوهنتون په عملیاتي پلان او داړوند کال په تشکیلاتي طرحه کې ځای پر ځای کیږي.

۶- د پوهنتون علمي معاون، اداري معاون او د پوهنځیو رئیسان پدې برخه کې جدي څارنه او مراقبت کوي.

**ب) د درسي ساعتونو په ویش کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د ورځني درسونو ویش په څانګو کې د استاد د مکلفیت په اساس د لوړو زدکړو محترم وزارت د لوایحو سره سم پلي کیږي. د څانګو علمي شوراګاني او هم د پوهنځی علمي شورا د عدالت د تآمین پدې برخه کې نظارت کوي. که کومه ستونزه د استاد، محصل اویاهم درسي بهیربه اړه رامنځته شوه، استاد یا محصل کولای شي چې خپله ستونزه په مستقیم ډول دڅانګې له آمر، پوهنځي له رئیس، علمي معاون او آن د پوهنتون له رئیس سره شریکه کړي او یا خپل شکایت د پوهنځي یا د پوهنتون شکایتونو په صندوق کې واچوي.

**ج) د لندمهاله او اوږد مهاله بورسونو په ویش کې د انصاف او عدالت پالیسي**

پوهنتون ریاست د استادانو او کارمندانو ظرفیت لوړوالو ته ژمن دی او هر بورس چې پوهنځي ته راجع کیږي، داصولو سره سم اړوند پوهنځي او څانګو ته لیږل کیږي دځانګې غونډه ورته نیول کیږي داړتیا په اساس داستادانو په موافقه یو یا دوه تنه استادان پوهنځي ته معرفي کیږي دپوهنځي علمي شورا له تائید وروسته دعلمي معاونیت له طرفه دپوهنتون درئیس په لاسلیک رسماً دلوړو زده کړو محترم وزارت ته معرفي کیږي .

**د) سیمینارونو او ورکشاپونو ته د استادانو، کارمندانو او محصلانو معرفي کول**

د پوهنتون نه بهر ورکشاپونو ته د محصلانو، کارمندانو او استادانو معرفي د څانګو او پوهنځی لخوا له څانګړتیا سره برابر صورت نیسي او د پوهنتون په داخلي ورکشاپونو کی اړتیا او وړتیا ته په کتو کس معرفي کیږي تر څو له یو خوا د هغو د پرمختګ او له بلې خوا د پوهنځی او څانګو د پرمختګ لامل شي.

**هـ) د ازمویني د پایلي د شفافیت په اړه د انصاف او عدالت پالیسي**

په ازموینه کې دښه شفافیت دتأمین په موخه پکتیکا پوهنتون ځانګړې پالیسي دلوړو زده کړو محترم وزارت دازموینودطرزالعمل او کریډیت لایحې په نظرکې نیولو سره جوړه کړې چې پکښې ۲۰٪ ازموینې، فاینل ازموینې، دچانس ازموینې، معذرتي ازموینې، رقابتي اونورې مختلفي ازموینې او دهغوي تګلاره شامله ده .

**و) د تولنیزو اخلاقو په مراعات کولو کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د پوهنتون د تضمین کیفیت مرکز، د مختلفو تعصبونو او سلیقوي برخوردونو د مخنیوي او د یو اخلاقي چاپیریال د رامنځته کولو په خاطر په پوهنتون کې د اخلاقو پالیسی تدوین کړه. په دې پالیسي کې په واضح ډول بیان شوي دي چې هر ډول تخلف له هرې مرجع نه چې ترسره کیږي د لوړو زده کړو او د هیواد د نافذه قانون سره سم به سوال او ځواب ورسره کیږي.

**ز) د شکایاتو په ارزونه کې انصاف او عدالت پالیسي**

نوموړی میکانیزم دپوهنتون د کیفیت د لوړولو د کمیټې لخوا ترتیب شوی دی.په دې چوکاټ کې په مفصله توګه د محصلانو استادانو او اداري کارمندانو د شکایتونو ته د رسیده ګی لارښوونه شوي ده او پوهنتون د نوموړي میکانیزم په عملي کولو کې ژمن دی.

**ح) د کار قانون په برخه کې د عدالت او انصاف پالیسي**

۱.د کار د قانون مطابق، خدماتي او اداري کارمندان له شنبې نه تر چهار شنبې هره ورځ د سهار له ۸ څخه د مازدیگر تر ۴ بجو پورې او د پنجشنبې په ورځ له ۸ څخه تر ۱ بجې پورې په پوهنتون کې په اداري کار مصروف وي. هغه کارمند چې په خپل سر پرته له دې چې خپل آمر رسمي خبر کړي وظیفې ته رانشي ناسوب حسابیږي.

۲.محصلان دا مکلفیت لري چې په تعین شوي ساعتونو کې په هر سمیستر کې حاضر وي هر استاد خپله ځانګړي حاضري لري او محصل چې حاضر نه وي ناسوب حسابیږي. د محصل شمولیت او محرومیت په ازموینه کې د هر استاد ځانګړي حاضري همغه چې ۷۵٪ حاضر او ۲۵٪ غیر حاضر وي محاسبه کیږي هیڅ کومه مرجع د استاد په ځانګړي حاضري کې د لاسوهنې حق نلري.

**ط) د مجازاتو او مکافاتو د تطبیق په اصل کې د عدالت او انصاف پالیسي**

د پوهنتون د مجازاتو او مکافاتو د اصل تطبیق ته ژمنه ده او د مالي توانایي سره سم هغه استادان او محصلان چې ورتیا لري حمایت کیږي. د هغو علمي، اداري کارمندانو اومحصلانو لیست چې تشویق شوي په علمي او اداري شعبو کې موجود دي.

**ی) د استادانو د ترفیعاتو او د تحقیقي موضوع ژباړي یا تالیف برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د استادانو د موضوع په تعین کولو کې محقق شخص عمده او اساسي رول لري د تحقیق استاد دري عنوانه د خپل تحقیق لپاره ټاکي او دیپارتمنت د تحقیق لپاره هغه عنوان غوره کوي، چې زیاته اړتیا ورته لري. د استادانو ترفیعات د لوړو زده کړو محترم وزارت د قانون مطابق په ځانګړي وخت کې د دیپارتمنت شورا، د پوهنځی علمي شورا له تائید وروسته دعلمي معاونیت له طرفه هغه پوهنتون ته چې دتقرر او ترفعاتو شورا ولري لیږل کیږي .

**ک) د اداري او خدماتي کارمندانو د ترفیعاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

پوهنتون د ملکي خدمتونو قانون او د کار قانون له مخې د دریو تنو اداري کارکوونکو او دوه ؤ تنو اجیرانو د دندو لایحو، کلنی پلانونو، ګزارشونو او کړنو سره سم ارزونه ترسره کوي. پوهنتون د دوي ټولو اداري او خدماتي چارو ته درنښت لري او لازمو امتیازاتو ورکولو او اسانتیاؤ چمتو کولو ته ژمنه ده.

پورته ذکرشوي پالیسي د نظم، دسپلین اوسپورت عمومي کمیټي په (۳) ګنه پروتوکول او ۱۴۰۴/۰۳/۲۰ نیټه غونډه کې تائید شوي ده

**د انصاف او عدالت پورتنی پالیسي د پوهنتون د علمي شورا په ( ۲۳ / ۰۴ / ۱۴۰۴ هـ ش) او ( ۴ ) ګنه پروتوکول غونډه کې د رایو په یو والي سره تائید شوه.**

**تائید کوونکی**

پوهنمل محمدیوسف واحدیار

د علمي او محصلانو چارومرستیال

**ترتیب کوونکی**

پوهنیار میاخان محمدي

د نظم دسپلین اوسپورت عمومي کمېټې مسؤل

**منظور کوونکی**

مولوي شیر احمد عباس

د پکتیا پوهنتون رئیس